## د کسانو د زده کړو په اړه معلومات چې د پولنډ اتباع نه دي

موارد چې د بهرنیانو په زده کړو پورې اړوند دي د لاندې راغلو احکامو په مټ تنظیمیږي:

– د *پوهنې قانون* چې د ۲۰۱۶ م زېږېديز کال د دېسمبر میاشتې په ۱۴ مه صادر شو ((۱۶۵) مه او (۱۶۶) مه مادې) (وروسته یې قانون نومیږي)
– د ملي پوهنې وزیر مقررات چې د ۲۰۱۷ م زېږېديز کال د اګوست میاشتې په ۲۳ مه صادر شول او *د کسانو د روزنې په هکله دی چې د پولنډ اتباع نه دي او د نورو هېوادونو د پوهنې په نظام کې چلېدونکو ښوونځو کې زده يې کړې ده.*

د ماشومانو د ښوونځی مکلفیت پلی کولو مسئولیت لرونکي کسان د دوی والدین دي چې د پلار او مور بشپړ حاکمیت لري او ماشوم په ورکتون/ښوونځی کې ثبت کوي.

## د ښوونځي او د زده کړې مکلفیت

**پام کړه!**
**هر ماشوم چې عمر یې له ۶ کالو راهیسې د ۱۸ کالو تر پای پورې دی مکلف دی ترڅو زده کړې.**

**د ورکتون چمتووالي، دغه چې صفر ټولګی نومیږي**

دغه ماشوم چې عمر ۶ کله دی مکلف دی ترڅو د ورکتون یو کلنه چمتووالي (دغه چې صفر ټولګی نومیږي) په ورکتون، د ورکتون په څانګه کې چې په ابتدايي ښوونځی کې پورت دی یا هم د ورکتون د روزنې په بله بڼه تېره کړي. دغه مکلفیت د تعلیمي کال په پیل کې او د کلیزې په کال کې شروع کیږي چې ماشوم پکې د ۶ کالو له عمر څخه مشر کیږي.

که چیرې د ماشومانو شمېر چې د علاقه دارۍ دفتر باید د ورکتون له روزنې د ګټې اخیستو ورتیا چمتو کړي، دوی ماشومان چې د علاقه دارۍ د دفتر په سیمه کې اوسیږي او په ورکتون/په ابتدايي ښوونځی کې د ورکتون څانګه کې د شاملولو د بهیر پر مهال ثبت شوي وو په هغه مرکز کې د ځایونو له شمېره ډېر وي، نو د ورکتون/ابتدايي ښوونځي مدیر د ماشوم د نه منلو په اړه د علاقه دارۍ مشر/ښاروال/د ښار مشر ته خبر ورکوي. په داسې حالت کې د علاقه دارۍ مشر/ښاروال/د ښار مشر دې په تحریري بڼه د والدینو لپاره یوه بله مرکز ته اشاره کړي چې ماشوم منلای شي (دغه چې تر ممکنه حده نږدې پورت وي).

**د ماشوم والدین چې په ورکتون کې د یوې کلنې چمتووالی مکلفیت په غاړه لري مکلف دي چې:**
– په ورکتون/ په ابتدايي ښوونځی کې د ورکتون په څانګه کې د ماشوم په باره کې ابلاغ کړي،
– تامین کړي چې ماشوم په مرتب ډول په درسونو کې حاضري کړي.

<u>۶ کلن ماشوم کولای شي چې په ځینو شرطونو باندې زده کړه یې په ۱ م ټولګي کې پیل کړي، چې دغه دي:</u>
– د والدینو غوښتنلیک،
– ماشوم دې هم له ذهني او جسمي اړخه د زده کړو لپاره چمتووالي ښکاره وکوي.

په ښوونځي کې د ماشوم منلو پریکړه د ښوونځي مدیر کوي د دغو ټکیو پر بنسټ:
– د روهیوهانو او ښوونکو د معاینه خانې نظر،
– که چیرې په تېر تعلیمي کال کې ورکتون ته تلی و.

**ابتدايي ښوونځی**

د ماشوم **د ښوونځي مکلفیت** له کلیزې سره سم د تعلیمي کال په پیل کې شروع کیږي چې ماشوم پکې د ۷ کالو له عمره مشر کیږي او <u>له ابتدايي ښوونځي څخه تر فارغېدو پورې</u> دوام لري مګر د ژوند د ۱۸ کالو له عمره مشر کېدو نه اوږد نه دی. دغه ده چې عامه یا غیر عامه **ابتدايي ښوونځي ته د تللو له لارې ډکه کیږي.**

<u>۷ کلن ماشوم کولای شي چې د ښوونځي له مکلفیت څخه ځنډونه ترلاسه کړي:</u>
– د والدینو په غوښتنلیک باندې چې د روحیوهانو او ښوونکو د معاینه خانې نظر پکې ضمیمه شوی وي،
– د عامه ابتدايي ښوونځي د مدیر په نظر باندې چې ماشوم یې په ولکه کې اوسیږي.

یادونه شوی غوښتنلیک له کلیزې سره سم په دغه کال کې پورته کېږي چې ماشوم پکې د ۷ کالو له عمره مشر کېږي مګر د اګوست میاشتې له ۳۱ مې نېټې څخه نه شي اوښتلای. دغه ماشوم په صفر ټولګی کې خپلو زده کړو ته دوام ورکوي.

**د ماشوم والدین چې د ښوونځي مکلفیت په غاړه لري مکلف دي چې:**

– په ابتدايي ښوونځی کې د ماشوم په باره کې ابلاغ کړي،
– تامین کړي چې ماشوم په مرتب ډول د ښوونځي په درسونو کې حاضري کړي ښوونځي
– د ماشوم لپاره داسې شرایط رامنځته کړي ترڅو د درسونو لپاره چمتو وي.

**ابتدايي لوړ ښوونځی**

له ابتدايي ښوونځي څخه له فارغېدو وروسته **د زده کړو مکلفیت د لاندني ډول له مخې ډکه کېږي**:

– **ابتدايي لوړ ښوونځي ته د تللو له لارې**
– له یو ه کار ورکوونکي په مرسته د مسلکي چمتووالی ترسره کولو له لارې.

زده کوونکي چې د ژوند د ۱۸ کالو له عمره له مشر کېدو وړاندې له ابتدايي لوړ ښوونځي څخه فارغ شوی و، کولای شي هم چې لوړ ښوونځي ته یا د مسلکي یا تصنیفي دورو ته د تللو له لارې د زده کړو مکلفیت ډکه کړي.

**د ماشوم والندین چې د زده کړو مکلفیت په غاړه لري**، د علاقه دارۍ مشر/ښاروال/د ښار مشر په غوښتنه چې ماشوم په سیمه یې اوسېږي مکلف دي چې د دې په باره کې ابلاغ یې کړي چې د ماشوم د زده کړو مکلفیت په کومه بڼه ډکه کېږي او هم که چیرې په دې ډګر کې بدلونونه رامنځته شوي وي.

## په ښوونځیو کې د ماشومانو منلو قواعد

**ژر تر ژره خپل ماشوم په ښوونځی کې ثبت کړی او د UDSC [او.د.س.څ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] له لوري ملاتړ تر لاسه کړی!**

ستاسو په هستوګنځی کې د ولکې په ښوونځی کې ثبت کړی (دغه ښوونځی په اصل کې ستاسو کور ته تر ټولو نږدې ښوونځی دی).
ماشومان د والدینو د ابلاغيې پر بنسټ، حتی د تعلیمي کال په ترڅ کې، منل کېږي (د قانون د (۱۳۰) مې مادې (۱) م او (۲) م بندونه).

**والد کولای شي چې یو بل ښوونځی** له دې ښوونځي نه پرته چې د دې په ولکه کې له ماشوم سره اوسېږي **انتخاب کړي**. په داسې حالت کې **د ښوونځی مدیر پریکړه به وکړي** چې آیا ماشوم به ومنل شي که نه. که منل شو نو د دې ښوونځي مدیر چې زده کوونکی مني باید د دې حقیقت په هکله د ولکې د ښوونځي مدیر ته خبر ورکړي (د قانون د (۳۶) مې مادې (۱۳) م او (۱۴) م بندونه).

> **په زړه ولرئ!**
> که چیرې **ښوونځی ونه غواړي ستاسو ماشوم ومني** - نو د مسؤولیت لرروونکي ارخ ته **مراجعه کړی** - دغه په اصل کې په دغه سیمه کې چې تاسو پکې اوسېږي **د علاقه دارۍ دفتر/د ناحیې دفتر** دی.

که د زده کوونکي منل دې ته اړتیا ولري چې د ښوونځي په کارونو کې تنظیمي بدلونه ترهسره شي چې د نورو مالي پایلو لامل کېږي نو د ښوونځي مدیر کولای شي چې د مسؤولیت لروندکي اړخ له خوا د اجازه له تر لاسه کولو وروسته زده کوونکی ومني - دغه چې د علاقه دارۍ دفتر/د ناحیې دفتر دی (د قانون د (۱۳۰) مې مادې (۳) م بند).

**د ولکې له ښوونځي پرته نور ښوونځي ته بیا لېږنه** (د قانون د (۱۶۶) مې مادې ۱ م بند)
که د ولکې په ابتدايي ښوونځی کې د زده کوونکو شمېر ډېر وي او بهرني ماشومان منل تنظیمي بدلونو ته اړتیا ولري (د مثال په توګه نوي ټولګي جوړول، په کار د ښوونکي ګومارل او او داسې نور) نو **د علاقه دارۍ دفتر/د ناحیې دفتر کولای شي چې لاندې یاد مرکزونه د زده کړو مکلفیت د ډکه کولو د ځای په توګه اشاره کړي**:

– نور عامه ابتدايي ښوونځی چې د یادو اړخونو له لوري چلول کېږي،
– عامه ابتدايي ښوونځی چې د نور علاقه دارۍ دفتر/د ناحیې دفتر  له لوري چلول کېږي او ور سره دوه اړخیزه هوکړه شوی وه.

د یادې ورتیا د نه ترسره کولو په صورت کې د علاقه دارۍ مشر/ښاروال/د ښار مشر ده سرپرست ته مراجعه کوي چې ابتدايي ښوونځي ته اشاره ورکوي چې کېدای شي ماشومان پکې ثبت شي.

### ابتدايي ښوونځی

ماشوم له لاندني بهير سره سم منل کېږي:

- د بهرنيو اسنادو په بنسټ (هم په هېواد هم په بهر کې د زده کړو د کلونو ټول شمېر)، هم د زده کوونکي عمر هم د والدينو نظر په پام نيول کېدای شي،
- د تصنيف د خبرو اترو پر بنسټ چې په پولنډي ژبې يا په بهرنۍ ژبې ترسره کېږي چې زده کوونکی پرې پوهېږي (که په ښوونځی کې د زده کولو د ټولو کلونو شمېر تاييدوونکي اسناد موجود نه وي)،
- د شاملولو د بهير په شرايطو او په پڼه يې چې د پولنډ په اتباعو پورې اړوند دي (په عامه وړکتون، هنري مراکزو، د پوهنې او روزنې په عامه مرکز کې د علاقه منديو او استعدادونو د پرمختګ لپاره درسونو کې، د ښوونځي د باندې په ښو دايمي روزنه).

### ابتدايي لوړ ښوونځی

ماشوم له لاندني بهير سره سم منل کېږي:

- د بهرنيو اسنادو په بنسټ (هم په هېواد هم په بهر کې د زده کړو د کلونو ټول شمېر)، هم د ماشوم عمر هم د والدينو نظر په پام نيول کېدای شي،
- د تصنيف د خبرو اترو پر بنسټ چې په پولنډي ژبې يا په بهرنۍ ژبې ترسره کېږي چې زده کوونکی پرې پوهېږي (که په ښوونځی کې د زده کولو د ټولو کلونو شمېر تاييدوونکي اسناد موجود نه وي)،
- د شاملولو د بهير په شرايطو او په پڼه يې چې د پولنډ په اتباعو پورې اړوند دي (په هنري مراکزو، د تاديې وړه ليليه، وړيا ليليه، د پوهنې او روزنې په عامه مرکز کې د علاقه منديو او استعدادونو د پرمختګ لپاره درسونو کې، د مسلکي تصنيف په موخه دورو کې،د ښوونځي د باندې په ښو دايمي روزنه).

### د ښوون‌ځي او زده کړو د مکلفيت د ترسره نه کولو پايلې:

**په وړکتون کې د کلنۍ چمتووالی مکلفيت، د ښوونځي يا زده کړو مکلفيت نه ترسره کول،** چې د يوې مياشتې په موده کې **په درسونو کې لږ تر لږه ۵۰ سلنو ورځو** نه توجيه شوی غيابت دی، جدي پايلې لرلای شي لکه:

- **تحريري اخطار،**
- **په والد باندې جريمه لګونه (حتی تر zł ۱۰۰۰۰ [زووتي] پورې)،**
- **د کورنو او نابالغانو محکمې ته غوښتنليک پورته کونه ترڅو د ماشوم د کورنۍ حالت وڅېړل شي او ګامونه پورته شي چې پايله يې د والد د حقونو محدودونه ده.**

والدين دې په مرتب ډول د ماشوم له روزنکي سره اړيکه ونيسي او هم د دې لپاره هڅې کړي چې ماشوم په مرتب ډول ښوونځي ته وځي (يا له ليرې درسونو کې حاضري ولري) او هر کېدونکی غيابت په دوامداره توګه توجيه وشي.

په درسونو کې د غيابت توجيهولو قواعد د ټول هېواد په احکامو کې نه دي ټاکل شوي، د ښوونځيو مقررات يا تاسيس نامې يې ټاکي. د ماشوم له روزنکي څخه د غيابت د توجيهولو د قواعدو په اړه پوښتنه کېدای شي.

### د شاملولو د ترسره کونې مهلتونه

**په ښوونځيو کې د شاملول د ترسر کونې او د تکميل بهير مهلتونه چې د اسنادو پورته کولو مهلتونه هم شاملوي** (د قانون د (۱۵۴) مې مادې (۱) م بند):

- که چيرې دغه <u>عامه وړکتون، په وړکتون کې د روزنې نورې عامې بڼې يا عامه ابتدايي ښوونځي وي</u> **- نو مسؤول اړخ د جنورۍ مياشتې تر پای پورې يې ټاکي (غالباً د مارچ ميياتې په پيل کې)،**
- که چيرې <u>دغه د بالغانو لپاره عامه ابتدايي ښوونځي، د عامه ابتدايي لوړ ښوونځي ۱ م ټولګی، په ابتدايي لوړو ښوونځيو کې مقدماتي ټولګی، چې دوه ژبني څانګې لري، او د ۲ مې درجې د عامو مسلکي ښوونځيو د ۱ م ټولګي لومړنې دوره او هم له ليسې وروسته عامه ښوونځي وي</u> **- نو د پوهنې څانګړی څارونکی د جنورۍ مياشتې تر پای پورې يې ټاکي.**

که چيرې زده کوونکی چې له بهره راغلی دی **نه شي کولای اسناد پورته کړي، نو سم ټولګي ته تصنيفېږي او د تصنيف خبرو اترو پر بنسټ په ښوونځی کې منل کېږي.**

د ښوونځی مدير او، که ور ته به اړتيا وي، د يوه ښوونکي په ګډون خبرې اترې ترسره کوي.

که چيرې زده کوونکی چې له بهره راغلی دی **په پولنډي ژبې باندې نه پوهېږي، نو د تصنيف خبرې اترې په دې پهرنۍ ژبې باندې ترسره کېږي چې زده کوونکي پرې وپوهېږي.**

که چیرې دې ته اړتیا به وي نو ښوونځی په خبرو اترو کې د دغو کسانو برخه اخیستنه چمتو کوي چې د ماشوم په ژبې باندې خبرې کوي (د مقرراتو (۱۲) م بند (۱) مه او (۴) مه فقرې).

**په ښوونځی کې د ماشوم په باره کې د ابلاغولو په موخه له انتخاب شوي ښوونځي سره اړیکه ونیسۍ او د اړینو اسنادو په اړه پوښتنه کړۍ.**

## په ښووځی کې د ماشوم ثبتولو لپاره اړین اسناد

غالباً د ماشوم پیژندنه (نوم، د کورنی نوم، د زیږېدلو نیټه، د پیژندنې د سند مسلسل او شمېره یې)، د والدینو نومونه او د کورنی نومونه یې، دبریښنالیک پته او د والدینو د ټلفون شمېر ورکول اړین دي.
د خپله او د ماشوم **د هستوګنځي په هکله څرګندونه** د تحریري ابلاغیې ضمیمه کړی.

> **پام کړه!**
> ښوونځی د خپله د غوښتنلیک نمونه یا د ابلاغیې نمونه ټاکلای شي.

که چیرې ماشوم **په ولکه کې** اوسیږي - **په عامه ابتدایي ښوونځی کې** ماشوم ثبتول په رسمي توګه د دفتر له لورې ترسره کیږي، داسې چې د دخیل کس له خوا د غوښتنلیک پورته کلولو ته له اړتیا پرته او د ابلاغیې پر بنسټ کیږي. والدین د خپله او د ماشوم د هستوګنځي په هکله څرګندونه د ابلاغیې ضمیمه کوي.

که چیرې ماشوم **د ولکې د باندې** اوسیږي - نو زده کوونکي **په عامو ابتدایي ښوونځیو کې** او هم **په عامو ابتدایي لوړو ښوونځیو کې** (لیسه، فني لیسه، د ۱ مې درجې مسلکي ښوونځی) **د خالي ځایونو لپاره** منل کیږي او د ښوونځیو د ځانګړو ډولونو لپاره د ټاکل شویو شرایطو له پوره کولو وروسته، لکه طبي تصدیق نامه، د طبیب یا روانشناس څرګندونه، د والدینو تحریري اجازه، د بدني وړتیا آزمیښت، د ژبو د استعداد د امتحان، د ژبو وړتیا، د مسلکي استعداد، د ګټورتابه د معاینې پایله ده، سمه ټولګي ته تصنیف کیږي.

**د ۲ مې درجې په عامو مسلکي ښوونځیو کې - (په خالي ځایونو کې) د لاندې یادو اسنادو پر بنسټ:**

- شهادت نامه یا نور سند چې په بهر کې صادر شوی او د پولنډ په جمهوریت کې مبدایي مسلکي زده کړې تصدیقوونکي اسناد ګڼل کیږي،
- د پولنډ په جمهوریت کې د مبدایي مسلکي زده کړې د تصدیقولو په هکله اداري قطعي پرېکړه،
- طبي تصدیق نامه، د طبیب یا روانشناس څرګندونه.

**له لیسې وروسته په عامو مسلکي ښوونځیو کې - (په خالي ځایونو کې) د لاندې یادو اسنادو پر بنسټ:**

- شهادت نامه یا نور سند چې په بهر کې صادر شوی او د پولنډ په جمهوریت کې منځنې یا مسلکي منځنې زده کړې یا هم په پوهنتون کې د منلو د غوښتنې اجازه تصدیقوونکي اسناد ګڼل کیږي،
- د پولنډ په جمهوریت کې منځنې یا مسلکي منځنې زده کړې یا هم په پوهنتون کې د منلو د غوښتنې اجازه تصدیقولو په هکله اداري قطعي پرېکړه،
- شهادت نامه یا نور سند چې په بهر کې صادر شوی او د تایید او د ۲۰۱۵ م زیږېدیز کال د مارچ میاشتي تر ۳۱ مې پورې تصدیق له لارې د لیسې شهادت، له عمومي لیسې څخه د فراغت شهادت نامه، د ځانګړي مضمون له لیسې څخه د فراغت شهادت نامه یا له فني لیسې څخه د فراغت شهادت نامه ګڼل کیږي،
- طبي تصدیق نامه، د طبیب یا روانشناس څرګندونه.

**اصلي قاعده**: له لیسې وروسته د ښوونځیو او د ۲ مې درجې د مسلکي ښوونځیو په استثنا د بهرني اسنادو پیژندلو ته اړتیا شتون نه لري.

**په بهر کې ترلاسه شویو زده کړو پیژندلو** په موخه د بهیر بڼه او د قواعدو تنظیموونکي احکام:

- د *معارفو نظام* د قانون (۹۳-h۹۳) مې مادې چې د ۱۹۹۱ م زیږېدیز کال د سپتامبر میاشتي په ۷ مه صادر شو (د ۲۰۲۴ زیږېدیز کال د رسمي جریدې (۷۵۰) م څېرکی).

*د شهادت نامې یا د نور سند د پیژندلو په موخه یا د زده کړو تاییدولو په موخه یا هم د روزنې له بهرنې نظام سره سم ترلاسه شویو زده کړو ته د دوام لرلو صلاحیت لپاره د بهیر په هکله* د ملي روزنې د وزیر فرمان چې د ۲۰۱۵ م زیږدیز کال د مارچ میاشتي په ۲۵ مه صادر شو (د ۲۰۲۳ زیږېدیز کال د **رسمي** جریدې (۱۸۸۵) م څېرکی)

## په عامو او غیر عامو ښوونځیو کې د آسانتیاوې او ملاتړ بڼې

**۱. مقدماتي ځانګې:**

– د زده کوونکو د انفرادي اړتیاوو او وړتیاوو په پام سره د زده ورکولو د برنامې د کړنلارو او بڼو په پلي کولو سره په ښوونځې کې د ادغام آسانتیا جوړوي.
– کېدای شي چې راهنما ښوونکي د کس له خوا ملاتړ شي چې د زده کوونکي د اصلي هېواد ژبه تسلط کوي،
– د زده کوونکو تر ټولو لوړ شمېر - ۲۵،
– په اونۍ کې د درسونو شمېر:
  - ✓ په ابتدايي ښوونځی کې: له ۱ م تر ۳ م ټولګیو پورې - لږ تر لوه ۲۰ ساعتونه
  - ✓ له ۴ م تر ۶ م ټولګیو پورې - لو تر لږه ۲۳ ساعتونه
  - ✓ له ۷ م تر ۸ م ټولګیو پورې - لو تر لږه ۲۵ ساعتونه
  - ✓ په ابتدايي لوړ ښوونځی کې - لږ تر لږه ۲۶ ساعتونه
– د زده کولو موده د تعلیمي کال تر پای ته رسېدو پورې داوم لري چې زده کوونکی پکې په مقدماتي ځانګه کې تصنیف شوی و - کېدای شي چې یا ولنډول یا واوږدول شي مګر له یوه تعلیمي کال نه شي اوښتلای.

**۲. د پولنډي ژبې اضافي ساعتونه:**

– په اونۍ کې لږ تر لږه د درسونو ۲ ساعتونه که څه هم په مقدماتي ځانګه د پولنډي ژبې ساعتونه په اونۍ کې لږ تر لږه تر ۶ ساعتونو پورې زیاته شوي دي،
– ښوونځی يې تنظیموي،
– د ۲۴ میاشتو له مودې نه شي اوږد وي.

**۳. د بشپړوونکو درسونو اضافي ساعتونه:**

– د ښوونکي په غوښتنه تنظیمېږي،
– که چیرې ور ته به اړتیا وي نو د برنامې فرقونه بشپړولو لپاره،
– په اونۍ کې د ځانګړي مضمون د درسونو ۱ ساعت،
– تر ټولو د ۱۲ میاشتو د مودې په ترڅ کې،
– ټول يې د یو زده کوونکي لپاره په اونۍ کې ډېر تر ډېره د درسونو ۵ ساعتونه (دغه چې هم د پولنډي ژبې اضافي ساعتونه او بشپړوونکي درسونه شاملوي).

**۴. د مرستندوی ښوونکي په کار ګومارل (دغه چې د فرهنګو په منځ کې مرسته کوونکی نومېږي):**

– د ماشوم د اصلي هېواد په ژبې باندې پوهېدونکی کس،
– د ښوونځي د مدیر له خوا په ګومارل کېږي،
– تر ۱۲ میاشتو پورې.

**۵. د اصلي هېواد د ژبې او فرهنګ د زده کولو وړتیا:**

– د زده کوونکو لپاره، چې د پولنډ اتباع نه دي او د ښوونځي مکلفیت په غاړه لري، د دوی د اصلي هېواد دیپلوماتیکي مرکز یا قونسولګري چې د پولنډ جمهوریت په خاوره کې چلول کېږي یا د ځانګړي توکم د فرهنګ او پوهنې لپاره ټولنه کولای شي چې په ښوونځی کې د اصلي هېواد د ژبې او فرهنګ درسونه تنظیم کړي،
– لږ تر لږه ۷ زده کوونکي،
– په اونۍ کې ډېر تر ډېره د درسونو ۵ ساعتونه.

**۶. د بهرنیو امتحانونو په ساحه کې آسانتیاوې** (د پوهنې نظام د قانون (zzr ۴۴ ) مې مادې (۷) بند):

– ماشوم چې په د ښوونځي یو کال کې د اتمه ټولګي یا د لیسې شهادت نامې امتحان ته لاس واهي او په ښوونځی کې د روانشناس او روزونکي له مرسته يې ګټې اخیستې دي کولای شي د خپله له تعلیمي اړتیاوو سره سم په جوړ شویو شرایطو کې او د بدني او ذهني اړتیاوو له مخې، د روزونکو د جرګې د مثبت نظر پر بنسټ دې امتحان ته لاس وواهي،

- ماشومان چې د پولنډي ژبې محدود شوی معرفت لري کولای شي چې د خپله له تعلیمي اړتیاوو سره سم په جوړ شویو شرایطو کې او د بدني او ذهني اړتیاوو له مخې، د روزونکو د جرګې د مثبت نظر پر بنسټ د ښوونځي یو کال کې د اتمه ټولګي یا د لیسې شهادت نامي امتحان ته (د بهرني ژبې له امتحان پرته) لاس ورواهي (که دغه د اتم ټولګي امتحان وي نو د امتحان جوړې شوې پاڼي تطبیقیږي)،
- د اتم ټولګي د امتحان او د لیسې شهادت نامي د امتحان د بنو تطبیقونه د بلابلو ټکیو په ګډون د تخصصي وسایلو او تعلیمي توکو پلي کونه (د مثال په توګه دوه ژبنی قاموس)، د امتحان د ترسره کولو لپاره د ټاکل شوي مهال اوږدونه، د امتحان په ترڅ کې د ملاتړ کوونکي ښوونکي د شتون او یې مرستې چمتو کونه شاملوي.

## د روزنې په ساحه کې مرسته چې د UDSC [او.د.س.خ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] د ټلونیزې مرستې د ځانګې له لورې چمتو کیږي

د UDSC [او.د.س.خ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] د ټلونیزې مرستې ځانګه، *د پولنډ جمهوریت په خاوره کې بهرنیانو ته د مرسته رسولو* له قانون سره سم چې د ۲۰۰۳ م زیږیدیز کال د جون میاشتې په ۱۳ مه صادر شو، نابالغ بهرنیانو ته چې په عامو مراکزو، ابتدایي ښوونځیو او ابتدایي لوړو ښوونځیو کې له زده کولو او پاملرنې ګټې اخلي **په ښوونځی کې د اړینو توکو** په بڼه تعلیمي مرستې چمتو کوي (په مادي بڼه یا د دې د اخیستلو لپاره د کوپون په شکل باندې).

د یادې مرستې **تر لاسه کولو په موخه** باید لاندې یاد اسناد دفتر ته ولیږل شي:
- **د ښوونځي د روان کال لپاره د ښوونځي اعتبار لرونکي تصدیق نامه،**
- **د تعلیمي مرستې د وېشلو ډک کړی غوښتنلیک** چې د UDSC [او.د.س.خ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] په وېبپاڼه په لاسرسي کې دی https://www.gov.pl/web/udsc/edukacja.

په ښوونځی کې اړین توکي د ښوونځي په کال کې یو ځل مجاز دي.

له دې سربېره د ابتدایي لوړو ښوونځیو زده کوونکو او ماشومانو ته چې په وړکتون کې یو کلنې اجباري چمتووالي (صفر ټولګی) ترسره کوي **د ښوونځي کتابونه** چمتو کیږي.

د یادې مرستې **تر لاسه کولو په موخه** باید لاندې یاد اسناد دفتر ته ولیږل شي:
- **د ښوونځي د روان کال لپاره د ښوونځي اعتبار لرونکي تصدیق نامه،**
- **له ښوونځي څخه د ترلاسه کړیو کتابونو نوملړ،**
- **د ښوونځي د کتابونو د وېشلو ډک کړی غوښتنلیک** چې د UDSC [او.د.س.خ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] په وېبپاڼه په لاسرسي کې دی https://www.gov.pl/web/udsc/edukacja.

دفتر هم تر ممکنه حده پورې د ښوونځي د باندې د درسونو او د تفریحي او ورزشي فعالیتونو لپاره د لګښتونو پوښښ چمتو کوي.
**د دې په موخه** باید چې:
- **د ښوونځي د باندې د درسونو او د تفریحي او ورزشي فعالیتونو لپاره د لګښتونو د پوښښ غوښتنلیک پورته شي،**
- **د ښوونځي د باندې د درسونه ویلو په هکله د اړوند ارخ تصدیق نامه،**
- **د ښوونځي د روان کال لپاره د ښوونځي اعتبار لرونکي تصدیق نامه،**

د دې په تړاو چې څه ډول ملاتړ غواړئ ترلاسه کړئ لاندې یادو تشکیلاتو ته ټول اسناد تسلیم کړئ:
- د بهرنیانو لپاره مرکز ته (د مراکزو نوملړ او پتې یې په https://www.gov.pl/web/udsc/kontakt-do-osrodkow باندې موجود دی)
- د بهرنیانو د چارو د دفتر د ټولنیزې مرستې د ځانګې د بهرنیانو لپاره د چوپړ ډلې ته: ul. Taborowa 16, 02-699 Warszawa [تابوروفا ۱۶ سړک، ۰۲-۶۹۹ ډاګ کوډه فارشافا ښار]
- د بهرنیانو د چارو د دفتر د ټولنیزې مرستې ځانګې ته د تقلیدي ډاګ په مټ: ul. Taborowa 33, 02-699 Warszawa [تابوروفا ۳۳ سړک، ۰۲-۶۹۹ ډاګ کوډه فارشافا ښار].

د زیاتي پوښتنو د شتون په صورت کې چې په روزنې پورې اړه ولري، لطفاً د UDSC [او.د.س.خ. یا د بهرنیانو د چارو دفتر] د معلوماتي خط په وساطت چې د ټلفن شمېره یې ۴۷ ۷۲۱ ۷۶ ۷۵ ده او د کار په ورځو کې له ۹:۰۰ بجو راهیسې تر ۱۵:۰۰ بجې، پورې چلېږي یا د edukacja@udsc.gov.pl برېښنالیک په مټ اړیکې ونیوئ.